CJ;

**د حقوقو د برابري په هکله ابلاغیه:**

په انګلستان کې د افغانانو ټولنه په دې پوهیږي چې زموږ په ټولنه کې افراد او ډلې د نژاد، جنس، ملیت، مدني حالت، شغلي وضعې، طبقې، معلولیت، جنسیت، سن، مذهبي عقیدو او سیاسي نظریاتو پر بنسبټ له تبعیض سره مخامخ دي او دا حالت دوام لري. ټولنه دنده لري چې ټولو اوسنیو او راتلونکو غړو ته ددې ډول تبعیض په پای ته رسولو سره برابر امکانات تامین کړي.

ټولنه خپله دنده بولي چې د غړو په استخدام او ګمارلو کې بې تبعیضه اجراتو ته وده ورکړي.

دداسې یوې مؤسسې په توګه چې له مهاجرو سره، چې زیاتره د تبعیض سره مخامخ دي جوړه شوې ده، په انګلستان کې د افغانانو ټولنه خپله دنده ګڼې چې دې خبرې ته تحقق ورکړي چې ددې خپل چال چلن او جوړښت به د هیڅ فرد او یا ډلې په مقابل کې د تبعیض نه کار نه اخلي. ټولنه دا مني چې د تبعیض د نشتوب ناخوځنده کړنلاره به په خپله په پوره پیمانه د برابرو امکاناتو سیاست منځ ته رانوړي. لدې امله ټولنه ځان د فعالې ( خوځنده) کړنلارې ز مه وار بولي او زیار کاږي چې دې خبرې ته تحقق ورکړي چې مهاجر په ټولو پوړونو کې د ټولنې په کار او پروګرام کې په بشپړه توګه ګډون وکړي.

ټولنه ځان ژمنمن بولي چې د هغو خدمتونو او منابعو په اداره او ګمارلو کې چې په واک کې یې دي، ناتبعیضي چال چلن ته وده ورکړي. ټولنه هڅه کوي چې مهاجرین او نوري محرومې ډلې وهڅوي چې د پریکړو کولو په پروسه کې اعظمي برخه واخلي.

ټولنه په دې پوهیږي چې ددې لپاره چې مهاجرین وکولای شي د ټولنې د کړنلارو او پروګرامونو په پلي کولو او وده کې بشپړه برخه واخلي، باید وروزل شي او ملاتړ یې وشي.

ددې لپاره چې د برابرو امکاناتو د برابرولو په لیار کې خپلې ژمنې تر سره کړې شي، ټولنه به د استخدام، ګمارلو او خپلو خدمتونو د وړاندې کولو په باب معلومات راټول او د هغې مناسبه څارنه به کوي.

د افغانانو ټولنه په انګلستان کې مني چې د حقوقو د برابري کړنلاره د یوې ځانګړې کړنلارې بڼه چې له یوې مشخصې نیټې څخه پیل شي، نشي لیدلای اروند مفصل چال چلن او ختن د کړنلارې بهګر به په یوه

اوږده موده کې تکامل او وده کوي. څرنګه چې کړنلاره وده کوي او څارنه يې کيږي نو دا به لازمه وي چې د اوږدې مودې په جوړښوو جوړښتونو او کارونو کې داسې بدلونونه راوستل شي چې هغه په ناڅاپي توګه نشي راتلای. ټولنه د برابرو امکاناتو په هکله د خپلې کړنلارې په پرمختيا، بدلونونو، چال چلن او ټولو نورو اړخونو نوې کتنه کوي.

د EOC تر ټولو لمړی دنده به دا وي چې د ټولنې د حقوقو د تساوي د کړنلارې څارنه وکړي، د هغې د تحقق او پرمختيا په باره کې مشوره ورکړي او د ټولنې د ګمارلو د مشی او د هغو اړخونو په باره کې چې د حقوقو د تساوي کړنلارې د پاللو لپاره يې لازم ګڼي، د بدلونونو سپارښتنه کوي.

د EOC مسئوليتونه به په مشخصه توګه په لاندې ډول وي:

(الف) د جذبولو، خوښولو او ګمارلو روان چال چلن ته نوې کتنه. دا به د اعلان په مقابل کې د جنس، د مهاجرت څرنګوالي، فرقه يي اصل، د شغل حالت او معلوليت له پلوه د عکس العمل په بنسټ کيږي. دا کار به د هرې دندې په اساس لاندنۍ څيزونې په نظر کې لري:
- اعلان او خپرونه چې د اعلان لپاره ورڅخه کار اخستل کيږي.
- د کانديد مشخصات.
- د لنډليک او د مرکې د ډلې جوړښت.
- د ننني او بهرني کانديد د بريالیتوب سطح.
- د کانديد له خوا د هر ډول شکايت اوريدل.

( ب ) د جنس، مهاجرت حالت، فرقه ئي اصل او معلوليت له نظره د ټولنې د کارکوونکو په موجوده جوړښت باندې نوې کتنه. دا به اساسا د (CP پروګرام په ګډون) د ټولو ډلو ( ټيمونو ) د مؤقتي او دايمي کارکوونکو او د پوره او نيموختي کار کوونکو لټون له ځان سره لري.

( ج ) د کارکوونکو د روزلو د پروګرام په جوړولو نوې کتنه ددې لپاره ده چې دوی به:
- کارکوونکو ته د ټولنې د حقوقو د تساوي امکاناتو برابرولو کړنلاره توضيح کړي.
- کارکوونکي به قادر کړي چې د خوښولو په کار کې بشپړ ګډون ولري.
- له کارکوونکو سره به مرسته وکړي چې په ځان کې د ګمارنې اعظمي توان ومومي.

ټولنه مني چې د يوه سازمان په توګه په بشپړه توګه د خپل اداري جوړښت له لیارې د برابرو امکاناتو د مشي د باوري کولو مسئوليت لري. دا د ټولنې کارکوونکي د کړنلارې يا اړوندو مقرراتو په اساس د ځانګړي مسئوليت څخه نه تبرئه کوي. د غړو له خوا د برابرو زمينو د مشی د تحقق د لیارې خنډ کيدل او يا د هغې مخنيوی کول به

انضباطي جرم وي. ټولنه به ددې کار د کېدلو لپاره په اوسني طرزالعمل کې ضروري بدلونونه راوړي.

ټولنه مکلفه ده چې د برابرو زمينو استخدام کوونکې شي. ټولنه هڅه کوي دا خبره يقيني کړي چې د يوه مستقل يا عملا کارکوونکي په مقابل کې به په پورته يادشوو مواردو کې د تبعيض نه کار نه اخستل کېږي او نه به دداسې شرائطو او ايجاباتو په اساس چې په څرګند ډول د توجيه وړ نه وي، هغه زيانمن کړي.
د جذبولو د طرزالعمل په ټولو پړاوونو کې به شديد محرميت ساتل کېږي. EOC ته به دا زمينه برابروي چې د اوسني انضباطي او د شکايت کولو په طرزالعمل باندې تبصره او هغه ته نوې کتنه وکړي او PAG ته نوې سپارښتونه وسپاري. دا به د مورتوب، بيکاري او د کيناستنې ( تقاعد ) د ترونونو او د خدمت د نورو شرطونو په برخه کې د پلي کولو وړ وي.

داسې شکايتونه لکه د کار په ځاى کې ځورونه او تبعيض د بايد د اوس لپاره د موجودو پروسو له لارې وڅېړل شي. که څه هم چې EOC به دا شکايتونه په خپله وڅېړي.

د EOC نه هيله کېږي چې د کړنلارې لا نور سپارښتونه په لاندې مواردو کې وړاندې کړي:
- د ټولنې دفترونو ته د فزيکي معلوليتو والرونکو او کار کوونکو لاسرسي.
- د کار د ساعتونو لا زياته انعطاف منته.
- د کيناستنې ( تقاعد ) عمر.
- د تورپوستو کارګرانو، ښځو او نورو ډلو سره د خپل منځي ملاتړ کوونکو ډلو د جوړولو هڅول.
- د ټولنې په اسنادو او د ننه په ټولنه کې د ورځني استعمال لپاره د غير تبعيضي ژبو استعمالول.
- د خاصو مذهبي او کلتوري رخصتيو ورکول.
- د راتلونکو فعاليتونو سره د پېژندنې لپاره د روزنې کورسونو جوړول.

ټولنه منې چې ددې برابرو امکاناتو د بشپړ ريښتياوالي لپاره کارکوونکو ته د پوره روزنې ورکولو پروګرام لازم دى ترڅو په اړوندو موضوګانو باندې ددوى پوهې لوړه کړي ترڅو دوي وکولاى شي چې په پوره توګه د خوښولو په طرزالعمل کې برخه واخلي او ورسره مرسته وکړي چې د ګمارلو لپاره خپل امکانات او وس د ټولنې د تصميم نيولو په پروسه کې د برخې اخستلو لپاره په اعظمي توګه لوړ کړي. اعظمي لمريتوب به ددې ته ورکړل شي چې د کارکوونکو يوه مناسبه برخه د خوښولو او جذبولو د تخنيکونو د زده کولو لپاره په کورسونو کې شامل شي ځکه چې دا د برابرو امکاناتو په کړنلاره کې منځنۍ حيثيت لري.

د روزنې يو پروګرام دې جوړ شي چې ټول کارکوونکي د برابرو

امکاناتو له مخې سره اشنا کړي او په دې یې وتوانوي چې په ټولنه کې د نژادپالنې او جنس پالنې غوندې تبعیضي اغېزو سره په مقابله کې پوره برخه واخستلی شي. د پروګرام تاکید باید په ټولنه کې د افرادو، ډلو او پروژو د روزنې په مشخصو ضرورتونو باندې وي. EOC په بشپړه توګه باید په دې پروګرام کې برخه واخلي.

ټولنه په دې عقیده ده چې د برابرو امکاناتو د ټولو اړخونو اغېزمن پلي کولو لپاره بشپړې څارنې ته ضرورت دی. ددې پروسې د لمړي پړاو په حیث ټولنه د استخدام او خوښولو دطرزالعمل او د موجوده کارکوونکو د ویش څارنې ته ځان ژمنمن بولي.

د په څرګنده توګه جوړې شوې مؤسسې په حیث چې د کافي اندازې منابعو او خدماتو تخصیص یې په واک کې دی، د برابرو امکاناتو څارنه دامهمه عواري چې ایا د EOC سپارښتونه بیلو ګروپونو ته ددې منابعو په ویش کې منعکس شوې دي.

بیله شکه چې دا په یو پرېلې او لانجمن کار وي، خو دا لاندې په شفه موارد وي چې د څېړلو ضرورت به لري:

د ټولو منابعو د تخصیص په باب د پرېکړون میکانزم او هغو ډلو ته چې لدې امله متاثره کیږي د ګډون امکانات.
د ټولنې له خوا انقراري مهاجرینو ته د ګڼو خدمتونو لکه کور، مشوره، ښوونه او روزنه معلوماتو او نورو برابرول او سر ته رسول.
- ایا منابع د بیلو بیلو ډلو په منځ کې په ناعادلانه توګه ویشل شوي یا استعمال شوي دي د مثال په توګه د ښځو ډلو ته او یا د لویو ټولنو په منځ کې خاصو فرقه یي ډلو ته ناکافي لاسرسي او یا په ټولنو کې د مشخصو ممتازو ډلو د اړتیاوو په پوره کولو باندې نامتناسب ټینګار کول.

په دوو ژبو، پښتو او دري کې د خپرولو او معلوماتو ورکولو په برخه کې څېړنه.

په انګلستان کې د افغانانو ټولنه عقیده لري چې ددې پوښتنو د موضوعاتو له حساسیت سره سره، د هغو څېړنه، لدې کبله چې برابرو امکاناتو ته ژمنه کوونکې مؤسسه ده، باید په نظر کې ونیوله شي. تر ټولو نورو په لمړیتوب دې ته ورکول کیږي چې د منابعو په تخصیص کې د زیات کسانو اغېزمنه برخه واخستلای شي.